مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آمنه فنا

۲۰۲۲/۱۰/۲۱

غـزل



یـار تـه مـې د زلـفو تار لـېږلی دی
زخـم د زړګـي يـې پـرې ګـنډلی دی

اوس چـې هـا بـې درده رغـېدلی دی
اوس ورپـسـې روح زمـا نـړېدلی دی

نـن بـه مـې نـغـمـو نه نـشې وڅاڅي
نـن مې خـيـال پـه مـيـو لـمـبـېدلی دی

ستا په لـيـدو ما ته هر څه ښکلي شي
ته هـم ماته ګوره ژونـدون ښکلی دی

جـوړ بـه تـرې انار- انار غزل کړمه
زړه مـې د غـمـيـو رنګـيـن څـلـی دی

ماته موسکی اوسه چې خـزان نه شم
تور اوربل مې تـا بانـدې سپارلی دی

وچ بـه دې فـنـا پـلـو لـه اوښکو شي
لـمـر د مـحـبـت پـرې لګـېدلی دی

آمنه فنا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ